کابل ناته

شماره ششم    سال سوم    عقرب ۱۳۸۶ خورشیدی    نومبر ۲۰۰۷ میلادی

منبع : د استاد بینوا سایت

# د نوي افغانستان د جوړېدو نړیوال جشن په پرتمینه توګه ولمانځل شو

د نوي افغانستان د جوړېدو د ۲۷۰ کالیزې نړیوال دوه ورځینی جشن د د اکتوبر پر ۱۹ او ۲۰ نېټو د جرمني د کولن په ( هورت ) کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې له خوا ولمانځل شو

.په دغه جشن کې له افغانستان ، امریکا ، کاناډا او د اروپا له ډېرو هېوادونو او ښارونو څخه له شپږسوو زیاتو کسانو ګډون کړی و.

په لومړۍ ورځ د معاصر افغانستان د تآسیس او د غه راز د نومیالیو افغان مؤرخینو په اړه یو شمېر کورنیو او بهرنیو پوهانو ، مؤرخینو او څېړونکو ویناوې او مقالې واورولې

د نوي افغانستان د تاسیس او د دغه جشن د جوړېدو په اړه دغو پوهانو ویناوې وکړې

: پوهندوی سید حسن ، کاندید اکادمیسین محمد اعظم سیستاني ، او الماني افغانستان پوه او ژبپوه سبیستیان هاینه

. د غونډې په علمي برخه کې چې د معاصر افغانستان د مؤرخینو په اړه جوړه شوې وه ، دغو پوهانو خپلې مقالې وړاندې کړې: ــ ښاغلي محمد معصوم هوتک ، د افغان مؤرخ فیض محمد کاتب هزاره د ژوند او تاریخي آثارو په اړه، -سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار، د قاضی عطاالله خان په هکله د ( تاریخ جوړونکی تاریخ لیکونکی ) تر سرلیک لاندی -پوهنوال رسول باوری،د احمد علی کهزاد د ژوند او آثارو په هکله.پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ،د معاصر افغانستان د تاریخپوهانو او په ځانګړې توګه د میر غلام محمد غبار په تاریخی لیکنو خپله مفصله ارزونه وړاندې کړه -ښاغلی محمد اسحاق نګارګر ،د لوی استاد عبدالحی حبیبی به هکله خبری وکړې او د خپل عقیدت د څرګندونې لپاره یې یوه منظومه وړته ډالۍ کړه -.اتریشي پروفیسور ډاکتر فرانس ګیوري ،د افغانستان په هکله یوه لنډه وینا وکړه.او په پای کی ښاغلي حبیب الله رفیع د افغانستان د دوو مؤرخینو استاد کهزاد او استاد حبیبی دعلمی کار د سره ورته اړخونو په باب وینا واوروله.د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه به ددغو علمی مقالو مجموعه ډېر زر د یوې ځانګړې ټولګې په توګه چاپ او خپره کړي.په جشني برخه کې یوه لنډه مشاعره او د افغان او جرمني هنرمندانو په ګډه یو ښکلی کنسرت له مستو افغاني ملي اتڼونو سره اجرا کړ.

د جشن دویمه ورځ د نومیالي افغان مؤرخ پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ ژوند او د تاریخي آثارو ارزونی ته ځانګړې شوې وه.
ویناوالو استاد کاکړ د افغانستان او سیمې په کچه د یوه وتلي او پیاوړي مؤرخ په نوم یاد کړ چې لیکنې یې د بهرنۍ نړۍ او علمي مرکزونو لپاره د یو با اعتباره ریفرینس په توګه د استفادی وړ دي. په دغه علمي غونډه کې دغو پوهانو د هغوی د ژوند او علمي کار د بېلابېلو اړخونو په باب ویناوې او مقالې واورولې

- - محمد امین باوری -
- کاندید اکادیمسین محمد اعظم سیستانی

- استاد حبیب الله رفیع -ډاکټر طارق رشاد-
- نجیب احمدزی-
- اکبر کرګر-
- ـ د استاد کاکړ مېرمن مریم کاکړ ـــ د استاد کاکړ زوی کاوون کاکړپه پای کې استاد کاکړ خبرې وکړې او دغه علمي غونډه د سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار په وینا پای ته ورسېدله. استاد اسحاق نګارګر د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د نویو کتابونو یو کلکسیون چې د افغانستان په ملي بیرغ کې نغښتل شوی و، د ډالۍ په توګه استاد کاکړ ته وړاندې شو.


19/10/2007


20/10/2007


20/10/2007


20/10/2007


دافغانستان دكلتوري و دي تولنه-جرمني
Verein zur Förderungd
hanischen Kultur e.v.
20/10/2007


20/10/2007


20/10/2007


دافغانستان دکتوري ودي ټولنه ـ جرمني
Verein zur Förderungder Afghanischen Kultur e.V.
19/10/2007


د افغانستان دکلتوري ودې ټولنه - جرمني
Verein zur Förderungder Afghanischen Kultur e.V.
19/10/2007


19/10/2007


ودي تولنه-جرمني
verein zur förderungder
19/10/2007


19/10/2007







رمضان